دو فصلنامهٔ

مجلهٔ علمی- تحقیقی عینک – علمي څېړنيزه شپږ میاشتنۍ

د امتیاز خاوند: لوګر پوهنتون

د مجلې د جواز نېټه: ۱۴ / ۱۱/ ۱۴۴۴

# په نبوي حديثونو کې د تبسم ارزښت او د ښوونې او روزنې په ډګرونو کې يې اغېزې

**پوهنيار احسان الله احسان**

د اسلامي تعلیماتو څانګه، شرعیاتو پوهنځی، لوګر پوهنتون

ahsanhaqpal@gmail.com برېښناليک:

**لنډيز**

**د مسئلې بيان:** ننني اسلامي ټولنه له خپلو اصيلو ارزښتونو لکه مينه، محبت، مهرباني او وروروليـ څخه واټن نيولی او پر ځای يې کرکه، حسد، غوسه او نفرتونه راغلي دي، موږ بايد خپل زړونه د کينې او بدګومانۍ له زهرو پاک کړو. بايد د موسکا، ورين تندي، خوږو خبرو او نرم مزاجۍ په وسيله يو بل ته د محبت پيغام ورکړو.

**د څېړنې موخه:** د دې څېړنې موخه د تبسم او خندا د ارزښت پېژندنه او تربيتي موخې بيانول دي، چې څنګه موږ کولای شو په ښوونيز او روزنيز چاپيريال کې له تبسم څخه ګټه واخلو.

**د څېړنې کړنلاره:** دا څېړنه په کتابتوني (تحليلي) مېتود باندې تر سره شوې ده.

**د څېړنې پايله:** د څېړنې په پايله کې ويلای شو چې په نبوي سنتو کې تبسم ډېر ارزښت لري، نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ښوونې او روزنې په ډګر کې موسکا د يوې اغيزمنې وسيلې په توګه کارولې، والدين او ښوونکي کولای شي چې د تبسم په وسيله ښه رزونه تر سره کړي، موسکا د ښوونې او روزنې يوه اغېزمنه وسيله ده، د موسکا په ذريعه له دوښمن نه دوست جوړيږي، لرې خلک پرې رانږدې کېږي، همداراز خلکو ته د موسکا په وسيله ځان ور نږدې کولای شو.

**کليدي کليمې:** تبسم، ښوونه او روزنه ، ارزښت، اغېزې، نبوي حديثونه.

**استناد:** احسان، احسان الله. (۱۴۰۴) په نبوي حديثونو کې د تبسم ارزښت او د ښوونې او روزنې په ډګر کې يې اغېزې - *تحقیقی* ***عینک*** *علمي*- څېړنيزه مجله، دربیم کال، پنځمه ګڼه، ۲۰۵- ۲۲۶.

ناشر: پوهنتون لوګر

حق‌مؤلف © نویسندگان.

**سریزه**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

!اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰالَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحٰابِهِ أَجْمَعِينَ، وَبَعْدُ

تبسم یا موسکا د انسان د فطرت یو ښکلی مظهر دی، چې د خوښۍ، نرم والي، سولې او انس د پیغام څرګندونه کوي. دا یو داسې عمل دی چې له ژبې پرته خبرې کوي، زړونه نږدې کوي او د انساني اړیکو تر منځ واټنونه لنډوي، تبسم یو ساده عمل دی، خو اغېزې یې ژورې، پراخې او پیاوړې دي. زموږ دین اسلام چې د رحمت او مهربانۍ دین دی، تل پر خوږو اخلاقو، نرم چلند او ښه رویه ټینګار کړی دی.

قرآن کریم او نبوي سنتو کې تبسم نه یوازې یو اخلاقي ارزښت، بلکې د ثواب وړ عمل بلل شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم به تل خلکو ته په موسکا سره مخامخېده او دا یې د ښو اخلاقو برخه ګڼله. تر دې چې په یو حدیث کې فرمایلي دي: "تبسمک في وجه أخیك صدقة" – یعنې "ستا موسکا د خپل ورور پر وړاندې یوه صدقه ده." دا ښئي چې اسلام نه یوازې تبسم یو نېک عمل ګڼي، بلکې ثواب ورباندې تړي.

د معاصرې نړۍ له اخلاقي بحرانونو، رواني فشارونو او ټولنیزو فاصلو سره سره، تبسم کولای شي د دغو ستونزو څخه د خلاصون یوه ساده خو ژوره وسیله وي، په ښوونیزو او روزنیزو ډګرونو کې چې هلته د معلم او متعلم همداراز د ماشومانو او والدینو اړیکې ډېر اهمیت لري، له موسکا څخه ګټه اخیستل د متقابل درناوي، باور جوړونې او مثبتې فضا رامنځته کولو لپاره اړین رول درلودلای شي.

په همدې بنسټ دا څېړنه هڅه کوي چې د تبسم ارزښت د نبوي حدیثو له نظره وڅېړي، د هغې موخې او تربیوي ګټې روښانه کړي او دا وښئي چې څنګه دا ساده خو ژور ارزښت په تعلیم او تربیه کې اغېزناک رول لوبولی شي.

**د مسئلې بیان:** نننۍ اسلامي ټولنه له خپلو اصیلو ارزښتونو لکه مینه، محبت، مهرباني او ورورولۍ څخه ورو ورو واټن اخلي، هغه ارزښتونه چې یو وخت د مسلمانانو د یووالي، ځواک او عزت بنسټ او اساس وو، اوس یې ځای کرکې، حسد، غوسې او تعصب نیولی دی، دا منفي احساسات د انسانانو تر منځ اړیکې خرابوي، زړونه جلا کوي او ټولنه له زیاتو ستونزو او ناخوالو سره مخ کوي، همداراز زموږ د ښوونې او روزنې ډګرونه هم ددې منفي احساساتو څخه زیانمن شوي دي، په

نوموړو ډګرونو کې له موسکا څخه ګټه پورته کول ډېر نه تر سترګو کېږي سره له دې چې په نوموړو ځاینو کې له موسکا څخه ګټه اخېستل ډېر اړین دي.

د حل لار دا ده چې موږ باید خپل زړونه د کینې او بدګومانۍ له زهرو پاک کړو. باید د موسکا، ورین تندي، خوږو خبرو او نرم مزاجۍ په وسیله یو بل ته د محبت پیغام ورکړو، موسکا کول ظاهرا ساده خو ژور اغیز لرونکې وسیله ده، نه یوازې زموږ پر روح او روان مثبت اغېز کوي، بلکې زموږ ټولنې ته هم خوښي، صمیمیت او ورورګلوي وربښي.

**د څېړنې ارزښت:** په قرآن کریم کې لس ځایه د ضحک کلیمه او مشتقات یې ذکر شوي دي، همداراز یو ځل د تبسم کلمه ذکر شوې ده، ددې تر څنګ په ګڼو نبوي حدیثونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د تبسم او ضحک اړوند احادیث رانقل شوي دي، امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحیح البخاري کې یو باب په همدې اړه لیکلی (باب التبسم والضحک) همداراز امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کې زیات احادیث په دې اړه ذکر کړي کومو ته چې امام نووي رحمه الله باب ایښی دی (بَابُ تَبَسُّمِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحُسْنِ عِشْرَتِهِ) د تبسم او ضحک په تړاو ډېر احادیث د نبوي حدیثو په کتابونو کې ذکر شوي دي.

## د څېړنې موخې

1.د ښوونې او روزنې په ډګرونو کې د تبسم اغېزې بیانول.

2. د تبسم او خندا پیژندنه او په نبوي حدیثونو کې یې ارزښت.

3.د ښوونکو، زده‌کوونکو او والدینو تر منځ د مثبت تعامل د پیاوړتیا لپاره د تبسم د ارزښت کارونه وړاندې کول.

## د څېړنې پوښتنې

1. د ښوونې او روزنې په ډګرونو کې د یاد ارزښتونو پالل کومې پایلې درلودلی شي.

د تبسم او خندا ارزښت په نبوي سنتو کې څه دی؟

2. د اسلامي روزنیز لید له مخې د تبسم او خندا موخه او ارزښت څه دی؟

3. والدین، ښوونکي او زده‌کوونکي څنګه کولای شي دا ارزښتونه په خپل تعامل کې وکاروي؟

## مواد او کړنلاره

د موضوع محتوا ته په کتو سره یاده څېړنه د کتابتوني مېتود (تحلیلي مېتود) څخه په ګټې اخېستنې سره تر سره شوې، له معتبرو حدیثي کتابونو او همداراز د موضوع سره اړوند کتابنونو څخه معلومات راټول شوي دي، تر څو د څېړنې په پای کې موثقو پایلو ته ورسېږو.

**د خیړنې اړوند د ځینو مصطلحاتو پیژندنه**

**الضحک:** د ژبپوهنې عالمان فرمایي: الضحک د خوښی له امله هغې خندا ته ویل کېږي چې غاښونه پکې ښکاره شي، خندا په دومره غږ سره وي چې یوازې نږدې کس یې واوري، که چېرته لرې واورېدل شوه هغې خندا ته بیا ضحک نه وایي، بلکه هغې ته قهقه ویل کېږي(٤) د ضحک کلمه له ضاحکة څخه اخیستل شوې ده، الضاحکة هغه غاښ ته ویل کېږي کوم چې د انیاب او اضراس غاښونو په منځ کې دي، او دا څلور غاښونه دي٥. په دغه خندا کې ضواحک غاښونه ښکاره کېږي ځکه ورته ضحک وایي. چې کله د خوښی له امله د یو چا غاښونه ښکاره شي نو عرب وایي: هغه ضاحک (خنده کوونکی) دی(٦).

**التبسم:** د تبسم کلیمه له بسَم څخه اخېستل شوې ده، بسم هغې خندا ته ویل کېږي په کومه خندا کې چې شونډې خلاصې شي، غږ ورسره نه وي او ثنایا غاښونه پکې ښکاره شي، دا خندا له ضحک څخه کمه او ښایسته وي(٧). دغه ډول خندا ته په پښتو ژبه کې موسکا ویل کېږي.

**په نبوي حدیثونو کې د تربیتي تبسم او ضحک موخې او دلیلونه**

محدیثینو په نبوي سنتو کې د تبسم او ضحک ځینې تربیتي (روزنیزې) موخې ذکر کړي، دلته به د ځینو موخو یادونه سره له دلیلونو سره وشي:

**الف: تبسم د ثواب او الله تعالی ته د نزیکت لپاره:** په نبوي حدیثونو کې یو مسلمان ورور ته تبسم یا موسکا کول، له هغه سره په ورین تندي سره مخ کېدل د ثواب عمل ګڼل شوی دی، په دې اړه امام ترمذي رحمه الله په خپل کتاب جامع الترمذي کې یو حدیث په لاندې ډول رانقل کړی دی:

٤فیروزآبادي، القاموس المحیط (ص: 872)، مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت –لبنان،۲۰۰۵م.
٥جوهري، الصحاح تاج اللغة وصحاح العربیة، ج۴ ص ۱۵۹۷، دارالعلم ملایین ـ بیروت ـ ۱۹۸۷م.
ابن منظور ،لسان العرب، ج ۱۰ ص ۴۵۹، دارصادر ـ بیروت ـ ۱۴۱۴هـ.
٦الشیخ احمدرضا، معجم متن اللغة، ج ۳ ص ۵۳۵، دار مکتبة الحیاة ـ بیروت ـ ۱۹۵۸ م.
١٧حمد مصطفی او ملګري یې، المعجم الوسیط، ص ۵۷، دارالدعوة.

عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ[۸].

ژباړه:ابوذر رضی الله عنه ویلي دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د خپل ورور په مخ کې موسکا کول (هغه سره په ورین تندي او موسکا باندې مخ کېدل) ستا لپاره صدقه ده.

همدې حدیث ته ورته یو حدیث مبارک امام مسلم رحمه الله هم په خپل صحیح کې په لاندې ډول نقل کړی دی:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا، وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ[۹]»

ژباړه: ابوذر رضی الله عنه څخه روایت ده چې: نبي کریم صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: "هېڅ نېک عمل کوچنی مه ګڼه، که څه هم دا وي چې ته خپل ورور په خوشحاله او موسک مخ سره ووینې."

یعنې: خپل مسلمان ورور سره په ورین تندي مخ کیدل هم یو نېک عمل دی او پر دې باندې ثواب درکول کېږي.

**ب:تبسم او ضحک د تعجب لپاره:** کله کله تبسم او ضحک د تعجب لپاره وي، یعنې یو څوک داسې یو عجیب حالت ووینې یا یو څه عجیبه واوري په دې سره انسان ته تبسم او خندا ورشي، داسې پېښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې ډېرې شته چې د ځېنو به دلته لنډه یادونه وکړو:

امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح مسلم کې له ابوهریرة رضی الله عنه څخه حدیث رانقل کړی دی چې په لاندې ډول دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: هَلَكْتُ، يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: «وَمَا أَهْلَكَكَ؟» قَالَ: وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ، قَالَ: «هَلْ تَجِدُ مَا تُعْتِقُ رَقَبَةً؟» قَالَ: لَا، قَالَ: «فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟» قَالَ: لَا، قَالَ: «فَهَلْ تَجِدُ مَا تُطْعِمُ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟» قَالَ: لَا، قَالَ: ثُمَّ جَلَسَ، فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ، فَقَالَ: «تَصَدَّقْ بِهَذَا» قَالَ: أَفْقَرَ

---

۸ ترمذي، سنن الترمذي، ج ۳ ص ۴۰۴، دارالغرب الاسلامي،۱۹۹۸م.

۹مسلم، صحیح مسلم، ج ۴ ص ۲۰۲۶، احیاء التراث العربي - بیروت - .

مِنَّا؟ فَمَا بَيْنَ لَابَتَيْهَا أَهْلُ بَيْتٍ أَحْوَجُ إِلَيْهِ مِنَّا، فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ، ثُمَّ قَالَ: «اذْهَبْ فَأَطْعِمْهُ أَهْلَكَ»[10]

ژباړه: يو سړی پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: "زه هلاک شوم، ای د الله رسوله!" پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورنه وپوښتل: "څه شي هلاک کړې؟" هغه وويل: "د رمضان په مياشت کې په خپله ښځه باندې واقع شوم(کوروالی مې ورسره وکړ)." پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل: "آيا دا توان لرې چې يو غلام آزاد کړې؟" سړي وويل: "نه." پيغمبر صلی الله عليه وسلم بيا ترې وپوښتل: "آيا دا توان لرې چې دوه پرله پسې مياشتې روژه ونيسې؟" سړي وويل: "نه." پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وويل: "آيا دا توان لرې چې شپېتو بې وزله کسانو ته خوراک ورکړې؟" سړي وويل: "نه." بيا پيغمبر صلی الله عليه وسلم يو څه وخت کښېناست چې يو کس ورته يوه پيمانه کجورې راوړې، ويې فرمايل: "په دې صدقه وکړه." سړي وويل:

"موږ له دې بې وزلو نه ډېر غريب يو، له موږ څخه ديته زيات اړمن نور څوک نه شته، پيغمبر صلی الله عليه وسلم وخندل، تر دې چې غاښونه مبارک يې ښکاره شول، بيا يې ورته وفرمايل:

"لاړشه او خپلې کورنۍ ته يې ورکړه." په دې حديث مبارک کې چې کومه خندا ذکر شوې دا د تعجب او حيرانتيا خندا ده، يعنې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ددې کس دا عجيبه حکايت واوريد او بيا يې دده دغه د فقر او غربت حالت وليد، د تعجب له وجې يې ورته وخندل.

همداراز امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحيح البخاري کې يو روايت په لاندې ډول نقل کړی دی:

"عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسٌ قَالَ: "بَيْنَمَا الْمُسْلِمُونَ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ لَمْ يَفْجَأْهُمْ إِلاَّ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَشَفَ سِتْرَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَنَظَرَ إِلَيْهِمْ وَهُمْ صُفُوفٌ، فَتَبَسَّمَ يَضْحَكُ، وَنَكَصَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه عَلَى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ لَهُ الصَّفَّ، فَظَنَّ أَنَّهُ يُرِيدُ الْخُرُوجَ، وَهَمَّ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يَفْتَتِنُوا فِي صَلاَتِهِمْ، فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَتِمُّوا صَلاَتَكُمْ، فَأَرْخَى السِّتْرَ، وَتُوُفِّيَ مِنْ آخِرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ"[11].

۱۰مسلم، صحيح مسلم، ج ۲ ص ۷۸۱.

۱۱بخاري، صحيح البخاري، ج ۱ ص ۱۵۱،دار طوق النجاة، ۱۴۲۲هـ.

ژباړه: ابن شهاب له انس بن مالک نه روایت نقل کوي فرمايي: (انس بن مالک) وويل: مسلمانان د سهار لمانځه په جماعت ولاړ وو، ناڅاپه رسول الله صلى الله عليه وسلم د عايشې د حجرې پرده پورته کړه، چې کله يې په صفونو کې ولاړ وکتل. موسکی شو او خندل يې. ابو بکر رضی الله عنه شا ته ګرځېده تر څو صفونو سره يوځای شي. ګمان يې وکړ چې دی له لمانځه څخه د وتلو اراده لري او مسلمانان په په لمانځه کې ګډوډ شي، پيغمبر صلى الله عليه وسلم اشاره ورته وکړه چې خپل لمونځونه مو پوره کړئ. بيا يې پرده ښکته کړه او دې هماغه ورځې په آخر کې وفات شو.

دې حديث مبارک څخه معلومېږي چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ژوند په اخيري وخت کې مسلمانان وليدل چې صفونو کې منظم ولاړ دي، د تعجب او خوښی پر اساس يې تبسم او خندا وکړه.

ج: **تبسم او ضحک د شفقت او مهرباني لپاره**

کله تبسم او ضحک د مهرباني او شفقت له مخې وي ددې په اړه هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژوند کې زيات حديثونه شتون لري چې د نمونې په ډول به يې دلته يادونه وشي، امام مسلم رحمه الله يو حديث رانقل کړی:

"عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، قَالَ: قُلْتُ لِجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ: أَكُنْتَ تُجَالِسُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ كَثِيراً، «كَانَ لَا يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ، أَوِ الْغَدَاةَ، حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَامَ، وَكَانُوا يَتَحَدَّثُونَ فَيَأْخُذُونَ فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ، فَيَضْحَكُونَ وَيَتَبَسَّمُ»"[۱۲]

ژباړه: له سماک بن حرب څخه روايت چې فرمايلي دي: ما جابر بن سمرة رضي الله عنه ته وويل: آيا ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره کيناستلی يې؟ هغه وفرمايل:"هو، ډېری وختونه." هغه وويل: "رسول الله صلى الله عليه وسلم به د سهار د لمانځه له ځای څخه تر هغه پورې نه پورته کېده، تر څو به چې لمر نه وو راختلی، کله به چې لمر راپورته شو بيا به پاڅېده، دوی (صحابه کرامو) به له يو بل سره د جاهليت د وخت خبرې کيسې کولې، خندل به يې او رسول الله صلى الله عليه وسلم به ورته موسکېده."

۱۲مسلم، صحيح مسلم، ج۱ ص۴۶۳. المعجم الكبير للطبراني (2/ 226)، السنن الكبرى للبيهقي (7/ 83).

یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم به صحابه کرامو سره کیناسته هغوی به د جاهلیت د وخت کیسې ورته کولې پیغمبر صلی الله علیه وسلم به ورته خندل.

همداراز امام بخاري رحمه الله یو اوږد حدیث رانقل کړی دی چې دلته به په مختصره توگه ذکر شي

یوه ډله صحابه د سفر په ترڅ کې د عربو یوه کلي ته ورسېدل. هغوی څخه یې د مېلمستیا غوښتنه وکړه، خو خلکو ونه منله. وروسته د کلي مشر مار وچیچلو، او د خلکو ټولې هڅې یې د درملنې لپاره بېفایدې ثابتې شوې. نو هغوی صحابهوو ته ورغلل او مرسته یې ترې وغوښته. یو صحابي وویل: "زه یې درملنه کولی شم، خو تاسې موږ ته مېلمستیا ونه کړه، نو تر څو مو چې یو څه شکرانه نه وي ټاکلی نه یې کوم." هغوی پر یوې رمې پسونو توافق وکړ. صحابي د سورت فاتحه تلاوت وکړ، مشر جوړ شو او پر پښو ودرېد. خلکو وعده شوې شکرانه ورکړه. صحابه وو وویل: "راځئ چې دا پېښه رسول الله ﷺ ته بیان کړو." کله چې یې پېښه نبي کریم ﷺ ته یاده کړه، هغه مبارک ورته وفرمایل:او ویې ویل: "څنگه پوه شوئ چې دا رقیه ده؟ بې شکه تاسو سم کار کړئ. اجر مو تقسیم کړئ ، او زما لپاره هم یوه برخه پرېږدئ." نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وخندل[13].

چې کله صحابه کرامو د سفر دغه پېښه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته ذکر کړه نو هغه مبارک ورته وخندل دا خندا د شفقت او مهرباني له مخې وه.

**د: تبسم او ضحک لپاره د محبت**

"عَنْ جَرِيرٍ، قَالَ: مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلاَ رَآنِي إِلاَّ تَبَسَّمَ فِي وَجْهِي[14].

ژباړه: حضرت جریر رضي الله عنه څخه روایت دی چې ویلي دي: "له هغه ورځې چې مسلمان شوی یم، رسول الله صلی الله علیه وسلم هېڅکله له ځانه څخه نه یم منع کړی. او هېڅکله داسې نه ده شوې چې ماته یې کتلي وي او موسکا یې نه وي کړې.(")

همدارنگه بل حدیث کې راغلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه-: "أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَوْمًا يُحَدِّثُ -وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ- أَنَّ رَجُلاً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ، فَقَالَ لَهُ: أَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ؟ قَالَ: بَلَى وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ. قَالَ فَبَذَرَ، فَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ

۱۳بخاري، صحیح البخاري،ج۳ ص۹۲.

۱٤بخاري، صحیح البخاري، ج۴ ص۶۵. صحیح ابن حبان (۱۶/ ۱۷۵) ، شرح السنة للبغوي (۱۲/ ۳۱۶).

وَاسْتِحْصَادُهُ، فَكَانَ أَمْثَالَ الْجِبَالِ. فَيَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ، فَإِنَّهُ لاَ يُشْبِعُكَ شَيْءٌ. فَقَالَ الأَعْرَابِيُّ: وَاللَّهِ لاَ تَجِدُهُ إِلاَّ قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا، فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ. فَضَحِكَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"[15].

ژباړه: حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې: يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم خلکو ته خبرې کولې او يو باندېچي کس هم ورسره ناست و. رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

"په جنت کې به يو سړی له خپل رب نه اجازه وغواړي چې کرنه (کرکېله) وکړي. الله جل جلاله به ورته ووايي: آيا ته هغه څه نه لرې چې زړه دې غواړي؟ سړی به ووايي: ولې نه، خو زه کرنه خوښوم. نو ژر به تخم وکري، او د سترګو له رپ سره سم به بوټي راشنه، لوی او حاصل به ورکړي او د غنمو ټولې به د غرونو په څېر شي، الله تعالی به ورته ووايي: واخله، دا ټول دې دي، ای د آدم زويه! ځکه تا هېڅ شی نه مړوي (قناعت نه لرې)."

نو هغه بدوي (اعرابي) کس وويل: "يا رسول الله! دا به خامخا قريشي يا انصاري وي، ځکه هغوی د کرنې خلک دي، خو موږ د کرنې خلک نه يو!"

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې خبرې سره وخندل.

**هـ: د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د فعل د امتثال لپاره ضحک**

"عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ عَلِيًّا أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا، فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ، فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَيْهَا قَالَ: " الْحَمْدُ لِلَّهِ، سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ، وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ، ثُمَّ حَمِدَ اللَّهَ ثَلاثًا، وَكَبَّرَ ثَلاثًا، ثُمَّ قَالَ: سُبْحَانَكَ لاَ إِلَهَ إِلا أَنْتَ، قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي. ثُمَّ ضَحِكَ، فَقُلْتُ: مِمَّ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ، ثُمَّ ضَحِكَ، فَقُلْتُ: مِمَّ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " يَعْجَبُ الرَّبُّ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي، وَيَقُولُ: عَلِمَ عَبْدِي أَنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ غَيْرِي"[16]. (حسن الغيره).

ژباړه: علي بن ربيعه څخه روايات دی چې ويلي دي: ما حضرت علي رضی الله عنه وليد چې يوه سورلۍ ورته راوستل شوه څو پرې سپور شي. کله چې يې پښه په زين کېښوده، ويې ويل: "بسم

---

۱۵بخاري، صحيح البخاري،ج۹ ص۱۵۱. صفة الجنة لأبي نعيم الأصبهاني (۲/ ۲۳۱).

۱۶ابن حنبل، مسند أحمد، محقق، شعيب الارنووط ج۲ ص ۱۴۸، موسسة الرسالة، ۲۰۰۱م.

الله"، او کله یې چې ځان برابر کړ، ویې ویل:"الحمد لله، سبحان الذي سخر لنا هذا وما کنا له مقرنین، وإنا إلى ربنا لمنقلبون"بیا یې درې ځله د الله حمد او درې ځله تکبیر وویل، وروسته یې وویل:"سبحانک لا إله إلا أنت، قد ظلمت نفسي فاغفر لي" وروسته حضرت علي رضی الله عنه وخندل، نو ما ترې وپوښتل: ای د مؤمنانو امیره! د څه لپاره دې وخندل؟ هغه وویل: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید چې همداسې یې وکړل، بیا هغه هم وخندل. نو ما ترې وپوښتل: یا رسول الله! تاسو د څه لپاره وخندل؟

نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ددې لپاره چې کله بنده دا کلمات ووایي: ربِّ اغفر لي (ای ربه! ماته ښنه وکړه)، نو الله فرمایي: زما بنده په دې پوهیږي چې پرته له ما بل څوک ګناهونه نه ښي.

بل حدیث کې راغلي دي: "عن أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ: كَانَ أَبُو الدَّرْدَاءِ لَا يُحَدِّثُ حَدِيثًا إِلَّا تَبَسَّمَ فِيهِ، فَقُلْتُ لَهُ: إِنِّي أَخْشَى أَنْ يُحَمِّقَكَ النَّاسُ، فَقَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يُحَدِّثُ بِحَدِيثٍ إِلَّا تَبَسَّمَ فِيهِ[١٧]».

ژباړه: ام‌الدرداء رضی الله عنها څخه روایت دی چې ویلي دي: ابوالدرداء رضی الله عنه به هېڅ خبره نه کوله مګر دا چې پکې به یې موسکا کوله. ما ورته وویل: زه ویره لرم چې خلک به تا بې‌عقله وبولي (یا به دې سپک وګڼي). نو هغه وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم به هېڅکله داسې خبره نه کوله مګر دا چې پکې به یې موسکا کوله.

**د تبسم او ضحک اړوند حدیثونو عملي ډګرونه او اغېزې یې**

موږ د ټولنیز ژوند په هره لحظه کې ددې حدیثونو تطبیق او عملي کولو ته اړتیا لرو په ځانګړې ډول هغه څوک چې د ښوونې او روزنې په ډګرونو کې په خدمت بوخت وي هغوي ددې حدیثونو په عملي کولو سره د ښوونې او روزنې یو مثالي چاپیریال رامنځته کولای شي، دلته به د روزنې په ډګر کې یوازې د مور او پلار او د ښوونې په ډګر کې د ښوونکوو او استادانو په اړه د ددې حدیثونو د عملي کولو یوه مختصره تګلاره ذکر کوو چې څنګه والدین او ښوونکي کولای شي ددې مبارکو حدیثونو څخه په خپلو روزنیزو او ښوونیزو ډګرونو کې ګټه واخلي:

---

١٧ سنن ابی داود، محقق، شعیب الارنووط. ج ٧، ٣٢٥، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، ج١ ص١٣١، مکتبة القدسي، القاهرة، ١٩٩۴م. البعث والنشور للبیهقي (ص: 233).

**مور او پلار:** د ماشومانو په روزنه کې مور او پلار ډېر مهم رول لري، په طبعي ډول ماشومان د لويانو خويونه او کړنلارې په خپلو ځانونو کې راولي، مور او پلار ته په کار ده چې د هغوي سالمه روزنه وکړي،رسول الله صلی الله علیه وسلم به هم له ماشومانو سره ټوکې کولې لکه په دې حديث کې چې ذکر شوي: "عَنْ أَنَسٍ قَالَ:كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُخَالِطُنَا حَتَّى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟ [۱۸]" قَالَ: وَكِيعٌ: يَعْنِي طَيْرًا كَانَ يَلْعَبُ بِهِ. (اسناده صحيح).

ژباړه: انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويلي دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به موږ سره زيات يوځای کيده، تر دې چې زما کوچني ورور ته يې ويل: "ابو عميره! هغه نغير (يو کوچنی مرغه) دې څه شو؟" وکيع وايي: نغير هغه مرغه و چې عمير به ورسره لوبې کولې.

له ذکر شويو حديثونو څخه سالمه روزنه په لاندې پړاوونو کې تر لاسه کيدای شي:

**۱ـ د خوښيو په فرصتونو کې هغوی سره د خوښی اظهار په تبسم سره کول.**

چې کله هم کوم د خوښی فرصت والدينو ته په لاس ورځي بايد خپلو اولادونو ته يو مثبت پيغام ورکړي او دا د پيغمبر صلی الله علیه وسلم له عمل څخه موږ زده کولای شو.

بل حديث کې راغلي دي: "عَنِ ابْنِ شِهَابٍ قَالَ أَخْبَرَنِي أَنَسٌ قَالَ: "بَيْنَمَا الْمُسْلِمُونَ فِي صَلاَةِ الْفَجْرِ لَمْ يَفْجَأْهُمْ إِلاَّ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَشَفَ سِتْرَ حُجْرَةِ عَائِشَةَ فَنَظَرَ إِلَيْهِمْ وَهُمْ صُفُوفٌ، فَتَبَسَّمَ يَضْحَكُ، وَنَكَصَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه عَلَى عَقِبَيْهِ لِيَصِلَ لَهُ الصَّفَّ، فَظَنَّ أَنَّهُ يُرِيدُ الْخُرُوجَ، وَهَمَّ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يَفْتَتِنُوا فِي صَلاَتِهِمْ، فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَتِمُّوا صَلاَتَكُمْ، فَأَرْخَى السِّتْرَ، وَتُوُفِّيَ مِنْ آخِرِ ذَلِكَ الْيَوْمِ" [۱۹].

ژباړه: ابن شهاب له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت نقل کوي فرمايي: (انس بن مالک رضی الله عنه) وويل: مسلمانان د سهار لمانځه په جماعت ولاړ وو، ناڅاپه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عايشې رضی الله عنها د حجرې پرده پورته کړه، چې کله يې په صفونو کې ولاړ وکتل. موسک شو او خندل يې. ابو بکر رضی الله عنه شا ته ګرځيده تر څو صفونو سره يوځای شي. ګمان يې وکړ چې دی له لمانځه څخه د وتلو اراده لري او مسلمانان په په لمانځه کې ګډوډ شي،

۱۸ابن ماجه، سنن ابن ماجه،ج ۲ ص ۱۲۲٦، دار الرسالة العالمية، ۲۰۰۹ م. مسند أبي داود الطيالسي (3/ 561)، مصنف ابن أبي شيبة (1/ 351)، مسند أبي يعلى الموصلي (6/ 91).
۱۹ بخاري، صحيح البخاري،ج۱ ص ۱۵۱.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم اشاره ورته وکړه چې خپل لمونځونه مو پوره کړئ. بیا یې پرده ښکته کړه او دې هماغه ورځې په اخر کې وفات شو.

دې حدیث څخه معلومیږي چې کله یو څوک یو د خوښي کار ووینې یا یو د خوښۍ خبر واوري باید نورو سره د هغه خوښۍ اظهار په تبسم او موسکا سره وکړي، مور او پلار کولای شي د خوښیو په مهال له خپلو بچیانو سره وخاندي او هغوی ته یو مثبت پیغام ورکړي، مثلا د یو چا زوی یا لور د قرآن کریم یو سورت یاد کړي او هغه خپل مور او پلار ته په منډه راشي او زیری ورباندې وکړي نو مور او پلار ته په کار ده چې په ورین تندي او په خندا سره د هغه خبره واخلي او خپل زوی/لور نور هم تشویق کړي یا همداراز یو ماشوم په مکتب یا مدرسه کې لومړی مقام تر لاسه کړي باید هغه لا نور هم تشویق شي او نور و هڅول شي.

**۲- د تعجب په وخت خپلو بچیانو ته د تبسم او موسکا په وسیله یو مهم پیغام ورکول**

د تعجب اړوند چې کوم احادیث ذکر شول نو مور او پلار کولای شي د تعجب په مهال له خپلو بچیانو سره تبسم او خندا وکړي،او داسې حالات په روزمره ژوند کې ډېر پیښیږي؛ ځکه د تعجب لپاره ډېر لاملونه کیدلای شي.

**۳ـ د مهرباني او شفقت په مهال بچیانو ته موسکا کول**

له هر چا سره باید په نرمه لهجه، ورین تندي او موسکا سره چلند وشي په ځانګړي ډول له خپلو بچیانو سره؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به همیش په ورین تندي او خوشاله حالت له مسلمانانو سره مخ کیده، او درسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند زموږ لپاره یوه نمونه ده لکه څنګه چې الله تعالی بیان کړی دی: لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ[۲۰].

ژباړه: ستاسې لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند یوه ښه نمونه دی.

مور او پلار ته په کار دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ژوند څخه پند او عبرت واخلي او داسې چلند له خپلو بچیانو سره وکړي لکه څنګه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم کولو.

**ښوونکي:**

په روزنیز ډګر کې ښوونکی او استاد ډېر مهم رول لري، همدا ښوونکي دي چې راتلونکي نسلونه روزي، د شاګردانو په ښوونه او روزنه کې د استاد اغېز د لمر غوندې روښانه دی، استاد ته په کار ده

۲۰الأحزاب: ۲۱

چې درسول الله صلی الله علیه وسلم د ښوونې او روزنې مېتودونو څخه په خپل ښوونیز چاپېریال کې پوره ګټه واخلې؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله فرمایي:

"إِنَّ اللهَ لَمْ يَبْعَثْنِي مُعَنِّتًا، وَلَا مُتَعَنِّتًا، وَلَكِنْ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُيَسِّرًا[۲۱]"

ژباړه: بېشکه الله تعالی زه د سختي کوونکي یا خلکو ته د ستونزو جوړوونکي په توګه نه یم رالېږلی، بلکې زه یې د ښوونکي او اسانی راوستونکي په توګه رالېږلی یم.

همداراز معاویه بن حکم رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه فرمايي:

"مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ[۲۲]"

ژباړه: ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ښه ښوونکی له ده وروسته او مخکې نده لیدلی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښوونیز ډګر کې له تبسم څخه زیاته ګټه پورته کوله، ښوونکي باید خپل ښوونیز چاپیریال د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تګلاره برابر کړي، دلته د نمونې په ډول یو څو حدیثونه ذکر کوو تر څو ښوونکو ته د پېغمبر صلی الله علیه وسلم تګلاره لا زیاته روښانه شي.

**۱- ښوونکی باید د خپلو شاګردانو پوښتنو ته په ورین تندي او خندا سره ځواب ورکړي**

یو ځل صحابه کرامو ته سفر کې یوه واقعه پېښه شوه د هغې په اړه یې د پېغمبر صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې ایا زموږ دا کار سم دی؟ هغه مبارک وخندل او ورته یې وفرمایل: بې شکه ستاسې دغه کړنه سمه ده[۲۳].

همدارنګه په بل حدیث کې راغلي دي: "عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ: أَتَتْ سَلْمَى مَوْلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ امْرَأَةُ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْتَأْذِنُهُ عَلَى أَبِي رَافِعٍ قَدْ ضَرَبَهَا. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِي رَافِعٍ: «مَا لَكَ وَلَهَا يَا أَبَا رَافِعٍ؟» قَالَ: تُؤْذِينِي يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بِمَ آذَيْتِيهِ يَا سَلْمَى؟» قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا آذَيْتُهُ بِشَيْءٍ، وَلَكِنَّهُ أَحْدَثَ وَهُوَ يُصَلِّي،

۲۱مسلم، صحیح مسلم، ج۲ ص ۱۱۰۴. الجامع الصحيح للسنن والمسانيد (20/ 490)

۲۲ مسلم، صحیح مسلم، ج۱ ص ۳۸۱. موطأ مالك ت عبد الباقي (2/ 777) شرح معاني الآثار (1/ 446)
معرفة الصحابة لأبي نعيم (۵/ ۲۵۰۰)

۲۳بخاري، صحیح البخاري،ج۳ ص۹۲.

فَقُلْتُ لَهُ: يَا أَبَا رَافِعٍ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَمَرَ الْمُسْلِمِينَ إِذَا خَرَجَ مِنْ أَحَدِهِمُ الرِّيحُ أَنْ يَتَوَضَّأَ، فَقَامَ فَضَرَبَنِي، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضْحَكُ وَيَقُولُ: «يَا أَبَا رَافِعٍ إِنَّهَا لَمْ تَأْمُرْكَ إِلَّا بِخَيْرٍ [۲٤]» (اسناده حسن).

ژباړه: له عایشې رضی الله عنها نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سلمی رضی الله عنها (د رسول الله صلی الله علیه وسلم ازاده کړې شوې وینځه) یا د ابورافع ښځه، چې هغه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم آزاد کړی غلام و،د هغه له امله د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته راغله اجازه یې وغوښتله؛ ځکه چې ابورافع هغه وهلې وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ابورافع ته وفرمایل: ابورافع! څه خبره ده، ولې دې دا ښځه وهلې ده؟ ابورافع وویل: ای د الله رسوله! دا ما ته تکلیف راکوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا سلمی ته وفرمایل: ای سلمی! تا په څه شي هغه ته تکلیف ورکړی دی؟ سلمی رضی الله عنها وویل: ای د الله رسوله! ما هېڅ شی نه دی ورته ویلي، خو د ده په لمونځ کې اودس مات شو، ما ورته وویل: ای ابورافع! رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته امر کړی دی، که د چا څخه په لمانځه کې هوا خارجه شي (اودس یې مات شي)، باید اودس وکړي. نو ابورافع پاڅېد او زه یې ووهلم. په دې سره پېغمبر صلی الله علیه وسلم خندل او ورته یې وویل:ای ابورافع! دې ښځې خو یوازې تا ته په خیر امر کړی ده.

له دې حدیثونو څخه معلومیږي چې ښوونکي باید د خپلو شاګردانو پوښتنو ته په ورین تندي او خندا سره ځواب ورکړي.

**۲- ښوونکی باید د خپلو شاګردانو په ښه کار سرته رسولو باندې خوشاله شي او د خوښۍ له امله ورته موسکا وکړي**

لکه په حدیث شریف کې راځي: "عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ سَعْدٌ: لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ. قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ كَانَ؟ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مَعَهُ تُرْسٌ، وَكَانَ سَعْدٌ رَامِيًا، وَكَانَ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا بِالتُّرْسِ يُغَطِّي جَبْهَتَهُ، فَنَزَعَ لَهُ سَعْدٌ بِسَهْمٍ، فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ رَمَاهُ فَلَمْ يُخْطِئْ هَذِهِ مِنْهُ - يَعْنِي جَبْهَتَهُ - وَانْقَلَبَ الرَّجُلُ، وَشَالَ بِرِجْلِهِ: «فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ» . قَالَ: قُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكَ؟ قَالَ: مِنْ فِعْلِهِ بِالرَّجُلِ" [۲٥].

۲٤مسند أحمد، (٤٣/ ٣٦٠)

۲٥الشمائل المحمدية للترمذي، ص: ١٩١.

ژباړه: له عامر بن سعد نه روایت دی، هغه وايي: سعد رضی الله عنه وویل: ما ولیدل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خندق په ورځ دومره وخندل، چې دده مبارک غاښونه ښکاره شول، ما (عامر) وویل: څنګه؟ څه پېښه وه؟ هغه وویل: یو سړی و، له ځان سره یې «ډال/ سپر» درلود، سعد (رضی الله عنه) یو ښه غشي ویشتونکی و. دا سړی به تل خپل تندی د سپر/ډال په وسیله پټاوه. سعد (رضی الله عنه) یو غشی تیار کړ، او کله چې هغه سړي خپل سر راپورته کړ، سعد پرې غشی وویشت، او دا غشی یې نېغ د هغه سړي په تندي ولګېد، سړی راولوېد او پښه یې شله شوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې پېښې داسې وخندل، چې دده مبارک نواجذ غاښونه ښکاره شول، ما وویل: له څه شي یې وخندل؟ سعد وویل: د هغه سړي په حال یې وخندل، چې څنګه پرې غشی ولګېد او راولوېد.

له دې حدیث څخه معلومیږي چې کله یو شاګرد ښه کار تر سره کړي باید استاد د هغه په کار باندې خوشحاله شي او له خوښي څخه ورته موسکا وکړي، لکه څنګه چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم سعد رضی الله عنه په کار باندې خوښ شو او د خوښي له امله یې ورته خندا وکړله.

**۳- ښوونکی کولای شي د یو شاګرد په ناخوښه کار باندې په چوپتیا سره ځواب ورکړي**

په یو بل حدیث کې د کعب بن مالک رضی الله عنه واقعه ذکر ده، کوم وخت چې دوی له غزوه تبوک وروسته پاتې شوي وو کعب رضی الله عنه خپله واقعه داسې بیانوي:

"فَكُنْتُ أَخْرُجُ فَأَشْهَدُ الصَّلاَةَ مَعَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَطُوفُ فِي الأَسْوَاقِ، وَلاَ يُكَلِّمُنِي أَحَدٌ، وَآتِي رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم -، فَأُسَلِّمُ عَلَيْهِ وَهْوَ فِي مَجْلِسِهِ بَعْدَ الصَّلاَةِ، فَأَقُولُ فِي نَفْسِي: هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلاَمِ عَلَىَّ أَمْ لاَ؟ ثُمَّ أُصَلِّي قَرِيبًا مِنْهُ، فَأُسَارِقُهُ النَّظَرَ، فَإِذَا أَقْبَلْتُ عَلَى صَلاَتِي أَقْبَلَ إِلَىَّ، وَإِذَا الْتَفَتُّ نَحْوَهُ أَعْرَضَ عَنِّي" [۲۶].

ژباړه: «نو زه به وتلم له مسلمانانو سره به مې لمونځ ادا کاوه، او بازارونو کې به ګرځېدم، خو هېڅ یو کس به له ما سره خبرې نه کولې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواته به ورغلم هغه مبارک به د لمانځه په ځای ناست و سلام به مې ورته واچولو، او په خپل زړه کې به مې ویل: آیا هغه (صلی الله علیه وسلم) خپلې شونډې زما د سلام په ځواب کې وخوځولې که نه؟ بیا به ما د هغه څنګ ته لمونځ کاوه، او په پټه به مې ورته کتل، که به مې لمانځه ته مخ کړ، نو هغه به ما ته مخ راواړاوه، خو

۲۶صحیح البخاري (3/ 112)

کله به چې ما د هغه مبارک لورې ته کتل، هغه مبارک به مخ راڅخه واړاوه، یعنې نه به یې راته کتل.»

له دې حدیث څخه معلومېږي چې یو ښوونکی کولای شي د یو شاګرد څخه یو نا خوښه کار ووینې مخ ورڅخه واړوي او هېڅ ورته ونه وایي.

**۴- ښوونکی کولای شي د یو شاګرد په ښه ځواب ورکولو باندې موسکا وکړي**

لکه ابی رمثه له حدیث څخه دا مسئله معلومیږي: "عنْ أَبِي رِمْثَةَ، قَالَ: انْطَلَقْتُ مَعَ أَبِي نَحْوَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِأَبِي: «ابْنُكَ هَذَا؟» فَقَالَ: إِي وَرَبِّ الْكَعْبَةِ. قَالَ: «حَقًّا؟» قَالَ: «حَقًّا أَشْهَدُ بِهِ» قَالَ: فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَاحِكًا مِنْ ثَبَتِ شَبَهِي فِي أَبِي، وَمِنْ حَلِفِ أَبِي عَلَيَّ. فَقَالَ: «إِنَّ ابْنَكَ هَذَا لَا يَجْنِي عَلَيْكَ، وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ» قَالَ: وَقَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {«وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى[۲۷]»

ژباړه: له ابی رمثه رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: زه له خپل پلار سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا ته لاړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم زما پلار ته وفرمایل: «دا ستا زوی دی؟» پلار مې وویل: «قسم د کعبې په رب، هو!» رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا وفرمایل: «رښتیا؟» پلار مې وویل: «هو، بالکل رښتیا، زه ورباندې شاهدي وایم.» راوي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره واورېده، نو موسکی شو او وې خندل؛ ځکه چې زه له خپل پلار سره ډېر ورته وم، او همداراز زما د پلار د قسم له امله. بیا یې وفرمایل: «ستا دا زوی به ستا له امله ونه نیول شي (په ګناه نه ملامتیږي)، او ته هم د ده له امله نه نیول کېږې.» (یعنې هر څوک به یوازې د خپلې کړنې مسؤول وي.) بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت تلاوت کړ: {وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى} (یعنې: هېڅ یو ګناهکار به د بل د ګناه بوج پر اوږو نه وړي.

**۵- استاد کولای شي د یوې عجیبه مسئلې بیان هم په موسکا سره وکړي**

لکه څنګه په راتلونکي حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو کس واقعه بیان کړي: "عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْلَمُ أَوَّلَ رَجُلٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَآخَرَ رَجُلٍ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ، يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ: اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَيُخَبَّأُ عَنْهُ كِبَارُهَا، فَيُقَالُ لَهُ: عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا، وَهُوَ مُقِرٌّ لَا يُنْكِرُ، وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِهَا فَيُقَالُ: أَعْطُوهُ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ

۲۷سنن الدارمي (۳/ ۱۵۴۳)

عَملَهَا حَسَنَةً، فَيَقُولُ: إِنَّ لِي ذُنُوبًا مَا أَرَاهَا هَهُنَا " قَالَ أَبُو ذَرٍّ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ(۲۸).

ژباړه: له ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی، هغه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «زه ښه پوهېږم چې څوک به جنت ته لومړنی داخلېدونکی وي او څوک به له دوزخ څخه وروستی وتونکی وي.» قیامت په ورځ به یو سړی راشي، نو الله تعالی به ملایکو ته وفرمايي: «د ده واړه گناهونه ورته وړاندې کړئ، خو لوی گناهونه يې ترې پټ کړئ.» ده ته به وویل شي: «تا فلانی ورځ، فلانی گناه کړې وه.» سړی به ټول تایید کړي انکار به نه کوي، خو په زړه کې به د خپلو لویو گناهونو له امله سخت وېرېږي، بیا به ورته وویل شي: «هره هغه گناه چې ده کړې، پر ځای يې تا ته یوه نېکي درکړل شوه» دا سړی به خوشحاله شي او وبه وايي: «زه داسې گناهونه لرم چې دلته نه ښکاري (هغه هم راوړئ)!» ابوذر رضی الله عنه وايي: ما ولیدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دومره وخندل، چې دده مبارک غاښونه ښکاره شول.

بناءا ښوونکو ته په کار ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صفات په خپلو ځانونو کې راولي.

شاگردان کوښښ کوي کوم استاد يې چې خوښ شي هغه د خپل مقتدا په توگه نیسي او د هغه ځانگړتیاوې په خپل ځان کې راولي.

که چیرته استاد خپل درسي چاپیریال په پورته حدیثونو سره برابر کړي نو هېڅ اړتیا به د تهدید او رټنې یا دسختو الفاظو پیدا نشي.

**د موسکا کوونکي ښوونکي مثبتې اغېزې په خپلو شاگردانو**

کوم ښوونکی چې خپل ښوونیز چاپیریال کې له موسکا څخه گټه پورته کوي د هغه په خپلو شاگردانو باندې راتلونکې مثبتې اغېزې وي: موسکا کوونکی استاد د زده کړې فضا له ویرې او ستړیا څخه خلاصوي، شاگردان ځان ته نږدې احساسوي، موسکا اعتماد رامنځته کوي، همداراز شاگردان له زده کړې سره مینه پیدا کوي په پوره جرأت سره خپلې پوښتنې د استاد په مخکې وړاندې کوي په خلاصه ډول ویلای شو چې د موسکا له برکته شاگردان له استاد سره په درسي بهیر کې ښکیل پاتې کېږي، بالمقابل کوم استاد چې له موسکا څخه گټه نه پورته کوي تل په غصه وي

۲۸الشمائل المحمدية للترمذي ص: ۱۸۷.

هلته شاګردان له استاد څخه ویره احساسوي، خپلې پوښتنې نه شي شریکولای او درسي بهیر کې ځان نه ښکېلوي.

**پایلیزه**

په دغې څېړنه کې لاندې مهمو پایلو ته رسېږو:

۱ـ په نبوي سنتو کې تبسم ډېر ارزښت لري، د یو مسلمان ورور سره په موسکا او ورین تندي باندې مخ کېدل د ثواب عمل ګڼل شوی دی.

۲ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښوونې او روزنې په ډګر کې له تبسم څخه د یوې اغېزمنې وسیلې په توګه ګټه پورته کړې ده.

۳ـ مور او پلار باید له دې اغېزمنې وسیلې څخه د خپلو اولادونو په تربیه کې ګټه پورته کړي او په خپلو بچیانو کې باید دا نېک عمل پیدا کړي.

۴ـ ښوونکي خپل ښوونیز چاپیریال کې د تبسم او موسکا په ذریعه خپلو شاګردانو ته یو مثبت پیغام لیږدولی شي.

۵ـ تبسم داسې یو عمل ده چې له دوښمن څخه دوست جوړوي، لرې کس پرې نږدې کېږي.

٦ـ ښوونکی باید د خپلو شاګردانو پوښتنو ته په ورین تندي او خندا سره ځواب ورکړي.

۷ـ ښوونکی باید د خپلو شاګردانو په ښه کار سرته رسولو باندې خوشاله شي او د خوښی له امله ورته موسکا وکړي.

**والدینو او ښوونکو ته وړاندیزونه:**

۱ـ والدین او ښوونکي باید د تبسم او خندا ارزښت ته په عملي ژوند کې ځانګړی پام وکړي؛ ځکه دا ارزښتونه یوازې په خبرو نه، بلکې د روزنې په جریان کې باید په عمل کې وښودل شي، همداراز والدین، ښوونکي او زده‌کوونکي ټول باید د دې ارزښتونو په تطبیق کې ژوندی بېلګې وړاندې کړي.

۲ـ باید د اسلامي ارزښتونو د اهمیت په اړه پراخ عامه پوهاوی رامنځته شي، دا ارزښتونه له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه واخېستل شي، عملي شي او د مختلفو روزنیزو او ښوونیزو لارو خلکو ته ورسول شي.

**اخځليکونه**

قرآن کریم.

ابن حبان، محمد بن حبان بن أحمد بن حبان بن معاذ بن مَعْبدَ، التميمي، أبو حاتم، الدارمي، البُستي (المتوفى: ۳۵٤هـ) صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان، محقق: شعيب الأرنؤوط، ناشر: مؤسسة الرسالة – بيروت،الطبعة: الثانية، ١٤١٤ –١٩٩٣.

ابن حجر، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل العسقلاني الشافعي، فتح الباري شرح صحيح البخاري،ناشر: دار المعرفة - بيروت، چاپ کال: ١٣٧٩.

ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: ٢٤١هـ)، مسند الإمام أحمد بن حنبل،ناشر: موسسة الرسالة،چاپ کال: ۲۰۰۱م.

ابن ماجه، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (المتوفى: ٢٧٣هـ)، سنن ابن ماجه، تحقيق: شعيب الأرنؤوط - ناشر: دار الرسالة العالمية،ط: ١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩ م.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري (المتوفى: ٧١١هـ)،لسان العرب،ناشر: دار صادر – بيروت،ط:٣ چاپ کال:- ١٤١٤ هـ.

أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي (المتوفى: ٢٣٥هـ) المصنف في الأحاديث والآثار، محقق: كمال يوسف الحوت، ناشر: مكتبة الرشد – الرياض،الطبعة: الأولى.

أبو داود سليمان بن داود بن الجارود الطيالسي البصرى (المتوفى: ٢٠٤هـ) مسند أبي داود الطيالسي، محقق: الدكتور محمد بن عبد المحسن التركي، ناشر: دار هجر – مصر،الطبعة: الأولى، ١٤١٩ هـ - ١٩٩٩ م.

أبو يعلى أحمد بن علي بن المثُنى بن يحيى بن عيسى بن هلال التميمي، الموصلي (المتوفى: ٣٠٧هـ) مسند أبي يعلى،محقق: حسين سليم أسد، ناشر: دار المأمون للتراث – دمشق،الطبعة: الأولى، ١٤٠٤ – ١٩٨٤.

الأصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران (المتوفى: ٤٣٠هـ)، صفة الجنة، محقق: علي رضا عبد الله، ناشر: دار المأمون للتراث - دمشق / سوريا.

أصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران (المتوفى: ٤٣٠هـ) معرفة الصحابة، تحقيق: عادل بن يوسف العزازي، ناشر: دار الوطن للنشر، الرياض،الطبعة: الأولى ١٤١٩ هـ - ١٩٩٨.

بخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه (صحيح البخاري)،ناشر:دار طوق النجاة،چاپ کال: ۱۴۲۲هـ.

بغوي، محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء الشافعي (المتوفى: ٥١٦هـ)، شرح السنة، تحقيق: شعيب الأرنؤوط-محمد زهير الشاويش، ناشر: المكتب الإسلامي - دمشق، بيروت، الطبعة: الثانية، ١٤٠٣هـ - ١٩٨٣م.

بيهقي أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر (المتوفى: ٤٥٨هـ)، البعث والنشور،تحقيق: الشيخ عامر أحمد حيدر، ناشر: مركز الخدمات والأبحاث الثقافية، بيروت، الطبعة: الأولى، ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٦ م.

البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر (المتوفى: ٤٥٨هـ)،السنن الكبرى، محقق: محمد عبد القادر عطا، ناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنات،الطبعة: الثالثة، ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م.

ترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (المتوفى: ٢٧٩هـ)، سنن الترمذي،ناشر: دارالغرب الاسلامي،چاپ کال:١٩٩٨م.

جوهري، أبو نصر إسماعيل بن حماد الجوهري الفارابي (المتوفى: ٣٩٣هـ)، الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية،تحقيق: أحمد عبد الغفور عطار، ناشر: دار العلم للملايين – بيروت، ط:۴ چاپ کال:١٤٠٧ هـ - ١٩٨٧ م.

حامد عبد القادر إبراهيم مصطفى / أحمد الزيات / / محمد النجار، المعجم الوسيط، ناشر: دار الدعوة.

شيخ احمدرضا، معجم متن اللغة، ، دار مكتبة الحياة ـ بيروت ـ، ١٩٥٨ م.

صهيب عبد الجبار، الجامع الصحيح للسنن والمسانيد، تاريخ النشر: ١٥ - ٨ – ٢٠١٤.

صهيب عبد الجبار،المسند الموضوعي الجامع للكتب العشرة.

طبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي، أبو القاسم (المتوفى: ٣٦٠هـ)، المعجم الكبير،محقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي،ناشر:دار النشر: مكتبة ابن تيمية – القاهرة.

طحاوي،أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف ب (المتوفى: ٣٢١هـ) شرح معاني الآثار، ناشر: عالم الكتب، الطبعة: الأولى - ١٤١٤ هـ، ١٩٩٤ م.

مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني (المتوفى: ١٧٩هـ) موطأ الإمام مالك،تصحيح: محمد فؤاد عبد الباقي، ناشر: دار إحياء التراث العربي، بيروت –لبنان،عام النشر: ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٥ م.

مسلم، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (المتوفى: ۲٦۱هـ)، المسندالصحيح (صحيح مسلم)، ناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت:تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي.

هيثمي، أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان الهيثمي (المتوفى: ۸۰۷هـ)،مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، ناشر: مكتبة القدسي، القاهرة، چاپ کال:۱۹۹۴م.

Two Quarterly
Ainak Academic – Research Journal
Logar University Journal License Date: June/ 2023

# قيمة التبسم في الأحاديث النبوية وآثاره في مجال التعليم والتربية

الأستاد: احسان الله احسان

قسم التعليمات الاسلامي، كلية الشريعة، جامعة لوجر أفغانستان

ahsanhaqpal@gmail.com

**خلاصة البحث:**

مشكلة البحث: وضّحَت في هذه الدراسة قيمة التبسم في الاحاديث النبوية وآثاره في مجال التعليم والتربيه، قد ابتعد مجتمعنا الإسلامي اليوم عن قيمه الأساسية كالحب والمودة واللطف والإخاء، وحل محله الكراهية والغيرة والغضب والبغضاء. علينا أن نطهر قلوبنا من سموم الحسد والريبة، وأن نبعث رسالة محبة لبعضنا البعض بالابتسامات واللطف والكلمة الطيبة واللين.

**هدف الدراسة:** تهدف هذه الدراسة إلى تحديد قيمة الابتسامة والضحك، وبيان أهدافها التربوية، وكيفية الاستفادة منها في البيئة التعليمية والتدريبية.

**منهج البحث:** وتَمّ انجاز البحث على الاعتماد بالمنهج المكتبي (التحليلي).

**خاتمة البحث:** وفي السنة النبوية للابتسامة قيمة عظيمة، وتُعدّ من الأعمال الصالحة. وقد استخدم النبي محمد صلى الله عليه وسلم الابتسامة كأداة فعّالة في مجال التعليم والتدريب يمكن للآباء والمعلمين اتخاذ قرارات صائبة من خلال الابتسامة، فالمربيّ، سواء كان والدًا أو معلمًا، يستطيع أن يغرس الحب والطمأنينة في نفوس المتعلمين من خلال هذه الوسيلة.

**نتيجة البحث:** فالابتسامة أداة فعّالة في التعليم. فمن خلالها، يُصبح الأعداء أصدقاء، والبعيدون أقرب، كما يُمكننا تقريب الناس من خلال الابتسامة.

الكلمات المفتاحية: الابتسامة، التربية، التعليم، الضحک.

**الاقتباس** : الاستاذ إحسان، إحسان الله. (١٤٠٤هـ) .**قيمة التبسّم في الأحاديث النبوية وآثاره في مجال التعليم والتربية** *المجلة العلمية-البحثية نصف السنوية «عينك»* ، ٥ ،العدد ٥، الصفحات ١٦٦-١٨٣.

©حقوق المؤلف. جامعة لوجر.